د افغانستان بانک لوی رئیس ښاغلي خلیل صدیق وویل چې دا هوکړه لیک دوه اړخیزه ګټې رانغاړي، کله چې پیرېدونکي د پور د ترلاسه کولو لپاره بانکونو ته ورځي بانکونه د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو د ثبت د سیستم له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې په مالي راکړو او ورکړو کې څومره ډاډمن کس دی چې د پور غوښتنه لري.

ښاغلي صدیق زیاته کړه چې د افغانستان بانک د دې هوکړه لیک له لارې د نړیوال بانک موخو ته رسیږي، بانکونو ته د پور ورکولو په برخه کې آسانتیاوې رامنځته کېږي او د بریښنا شرکت پیرېدونکي به د پانګه اچونې په موخه د بریښنا لګښتونه په خپل وخت ادا کړي، څو د عامه اعتباراتو د ثبت په سیستم کې نومونه یې د مالي سرغړونکو په توګه ونه لیکل شي.

د یادونې وړ ده چې د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم څخه د مالي ارګانونو او اداراتو له خوا په وړیا توګه معلومات ترلاسه کېږي او دا سیستم کولای شي په هېواد کې مالي معاملات خوندي کړي.■

# د افغانستان بانک، افغانۍ زاړه بانکنوټونه وسوځول

د ۱۳۹۷ کال د تلې میاشتې ۳ مه نیټه – د افغانستان بانک د قانون د ۳۹ او ۴۲ مادې پربنسټ او د ۸۲۸ حکم له مخې دوه میلیارده او څلور سوه میلیونه له کاره لوېدلې زړې افغانۍ بانکنوټونه د سوځولو د ځانګړې پلاوي پر وړاندې په کابل کې وسوځول.

د افغانستان بانک د پلازمینې کابل په دې ځل د سوځولو په پروسه کې ۲ میلیارده او څلور سوه میلیونه افغانۍ زاړه بانکنوټونه وسوځول.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د پیسو د سوځولو پرمهال وویل چې په افغانستان کې له پیسو څخه د سمې ساتنې کلتور باید دود شي، ځو د افغانستان بانک د پیسو د چاپ په پروسه کې ډیر زیانونه ونه زغمي.





ښاغلي رحیمي زیاته کړه چې که څه هم افغانۍ بانکنوټونه په لوړ کیفیت چاپ شوي، خو په ورځنیو چارو کې له دې پیسو څخه د خلکو د ناسمې ساتنې او ناوړه کارولو له امله ژر زړېږي او د بیاځلي چاپ لپاره یې لګښت ترسره کېږي.

د یادونې وړ ده چې زړو سوځول شویو بانکنوټو زریز، پینځه سویز، سلیز، پنځوسیز، شلیز او لسیز ډولونه لرل چې د ولسي جرګې، مشرانو جرګې، د عدلیې وزارت، امنیتي ارګانونو د استازو په ګډون او د افغانستان بانک د چارواکو پر وړاندې وسوځول شول.▣

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د کندهار ولایت له سوداګرو سره وکتل

د ۱۳۹۷ کال د تلې د میاشتې ۹ مه – د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د سوداګرۍ خونو د استازو سربېره د کندهار د ولایت له یوشمېر سوداګرو سره وکتل.

د دې لیدو کاتو اصلي موخه د سوداګریزو بانکونو له خوا د اسعارو په راکړه او ورکړه کې د ستونزې کمول او د صادراتو د زیاتوالي لپاره د لارو چارو موندل وو.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د سوداګرو د ستونزو له آوریدو وروسته وویل چې د افغانستان بانک د صادراتو د زیاتوالي او د اقتصادي پرمختګ په موخه له سوداګرو سره هر ډول همکارۍ ته چمتوالی لري.

ښاغلي محمد قسیم رحیمي زیاته کړه چې د افغانستان بانک به له سوداګریزو بانکونو سره په دې اړه خبرې وکړي، څو د سوداګرو لپاره هر ډول قانوني آسانتیاوې رامنځته کړي او سوداګر وکولای شي په خوندي فضا کې خپلې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي.

دیادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د دویم مرستیال سربېره د سوداګرۍ خونو مرستیال خان جان الکوزي او د افغانستان بانک یوشمېر آمرینو ګډون کړی وو.▣

# د افغانستان بانک له خوا په کاردان پوهنتون کې ښوونیز ورکشاپ جوړ شو





د ۱۳۹۷ کال د تلې د میاشت ۱۸ مه – د افغانستان بانک د ریاست د دفتر عمومي آمریت په نوښت او د افغانستان بانک د پولي سیاست او د مالي چارو د څارنې د لویو آمریتونو په تخنیکي همکارۍ په کاردان پوهنتون کې د اقتصاد محصلینو لپاره ښوونیز ورکشاپ په لاره واچول شو.

د دې ورکشاپ موخه د افغانستان بانک د موخو، دندو او پالیسیو په اړه د کاردان پوهنتون د اقتصاد محصلینو ته معلومات وړاندې کول وو.

دا ورکشاپ د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمریت د مرستیال ښاغلي شفیق الله بارز محصلینو ته د ښه راغلاست په ویلو سره پیل شو چې په ترځ کې ښاغلي بارز وویل چې د دې پروګرامونو موخه له محصلینو سره د معلوماتو شریکول وو چې ښه والی دا دی چې هغه څه چې محصلینو په تیوري توګه ترلاسه کړي له عملي بڼې سره یې آشنا کیږي. د همدې لپاره د افغانستان بانک هغه دوه کلیدي آمریتونه چې د پولي سیاست طرح کول او بل یې د مالي نظام او سوداګریزو بانکونو څخه د څارنې دندې پرغاړه لري تاکل شوي، څو محصلینو ته معلومات وړاندې کړي.

په همدې حال کې د پولي سیاست او د مالي چارو د څارنې لویو آمریتونو پر خپلو کړنو او فعالیتونو رڼا واچوله چې د محصلینو له خوا په ډیره علاقمندۍ او لیوالتیا سره واوریدل شو.

د افغانستان بانک د پولي سیاست آمریت د مرستیال ښاغلي خالد معراج له خوا د پولي سیاست طرح کول، ترلاس لاندې نیول او اجرا کول او همدا راز د نرخونو د ثبات په اړه توضیحات وړاندې شول. د مالي چارو د څارنې لوی آمریت مرستیال ښاغلي سید محسن سادات هم د دې آمریت پر کړنو، له مالي نظام او سوداګریزو بانکونو څخه په څارنې رڼا واچوله او محصلینو ته یې وښودل چې د افغانستان بانک په چوکاټ کې دغه آمریت کومې دندې پرمخ بیایې. په وروستي برخه کې محصلینو ته وخت ورکړل شو، څو خپلې پوښتنې مطرح کړي.

په پای کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر د عمومي آمریت له خوا هغه تصدیق پاڼې چې د ګډون والو محلصینو لپاره برابرې شوې وې، ووېشل شوې. د یادونې وړ ده چې د ښوونیزو ورکشاپونو لومړۍ او دویمه لړۍ د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې د محصلینو او خبریالانو لپاره وړاندې شول او په دریم پړاو کې د کاردان پوهنتون ۴۰ تنو ګډون والو ته معلومات ورکړل شول چې دا لړۍ لاهم دوام لري.▣

# د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو د ثبت لوی آمریت له خوا د عامه پوهاوي ورکشاپونه په لاره واچول شول





د ۱۳۹۷ کال د تلې ۱۶ مه – د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو د ثبت آمریت له خوا صنعت کارانو او وړو مالي مؤسساتو استازو ته د عامه اعتباراتو د ثبت د آسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د عامه پوهاوي ورکشاپ ترسره شو.

ددې ورکشاپ موخه د عامه اعتباراتو د کړنو او فعالیتونو په اړه رڼا اچول او د اقتصادي پرمختګونو لپاره لارې چارې هوارول، مالي ملاتړ ته د لاسرسي آسانتیا، د اقتصادي پرمختګونو لپاره لارې چارې برابرول او مالي نظام پراختیا وو.

د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو د ثبت آمر ډاکټر سید عزیزالله سادات وویل چې د اقتصادي ودې او مالي سیستم کې د رونوالي په موخه هڅه کوي چې د مالي راکړو او ورکړو په اړه د سوداګرو معلومات ثبت او د اړتیا په صورت کې یې له مالي مؤسساتو او مالي ادارو او بانکونو سره شریک کړي.

د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو د ثبت آمریت له خوا د عامه پوهاوي د تېرو ورکشاپونو په درشل کې د ۱۳۹۷ کال د تلې ۲۲ مه – د سوداګرېزو بانکونو استازو ته د مالي ملاتړ ته د لاسرسي د آسانتیا په موخه د عامه پوهاوي ورکشاپ ترسره شو.

د یادونې وړ ده چې په غونډو کې د صنعت کارانو د ټولنې د استازو ترڅنګ د وړو مالي مؤسساتو چارواکو، د سوداګرېزو بانکونو استازو، د بانکونو د ټولنې مشر نجیب الله امیري او د عامه اعتباراتو د ثبت مرستیال ښاغلي عبدالناصر سهاک هم ګډون کړی وو.

د عامه اعتباراتو د ثبت د لوي آمریت د عامه پوهاوي پروګرامونه د نړیوال بانک په مالي او د ثبت اعتبارات عامه په تخنیکي ملاتړ په لاره اچول کیږي.▣

## د افغانستان بانک حقوقي سلاکار د سوداګریزو بانکونو له حقوقي سلاکارانو سره غونډه وکړه



د افغانستان بانک حقوقي سلاکار د سوداګریزو بانکونو له حقوقي سلاکارانو سره د بانکي تضمین او په دې اړه په شته ستونزو خبرې اترې وکړې.

د افغانستان بانک حقوقي سلاکار ښاغلي عبدالحمید سهاک په بانکي تضمین باندې بشپړه رڼا واچوله او د قانون په پلي کیدا یې د ټینګار ترڅنګ د سوداګریزو بانکونو حقوقي سلاکارانو ته د بانکي تضمین په اړه لازمې لارښوونې وکړې.

ښاغلي سهاک د سوداګریزو بانکونو د استازو ستونزو په آوریدو سره وویل چې د بانکي تضمینونو په اړه ستونزې شته او اړین موضوعات به یې له سترې محکمې سره شریک او د حل لپاره به یې لارې چارې پیدا کړي.

د یادونې وړ ده چې دغه غونډه د افغانستان بانک په مرکزي ودانۍ کې جوړه شوې او په هېواد کې د سوداګریزو بانکونو ګڼ شمېر حقوقي سلاکارانو پکې ګډون کړی وو.▣

## د افغانستان بانک د مالي خطرونو او همدا ډول د مالي استحکام د پروژو څخه د ملاتړ آمرین وپېژندل شول

کابل، د ۱۳۹۷ کال د تلې ۷ مه – د افغانستان بانک د کارکوونکو په ګمارنه کې له یوې رنې، او د خلکو د منلو وړ پروسې څخه کار اخلي او د لوړو زده کړو لرونکو، وړ، مجربه او کار پوهه کارکوونکو په ټاکلو کې یې ښاغلی عبدالغفور سادات چې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او تردې مهاله یې د افغانستان بانک ۱۲ کلنه کاري تجربه ترشا پرېښې د مالي استحکام له پروژو څخه د ملاتړ آمر و ټاکه.

همدا ډول ښاغلي عبدالعزیز مومند هم چې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او د افغانستان بانک په بېلا بېلو برخو کې کار کړی، مخکې تردې د مالي خطرونو د مالي برخې مرستیال ؤ د مالي خطرونو د آمر په توګه د دې آمریت کارمندانو ته وپېژندل شو.

دواړو آمرینو په خپل وار سره د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي له اعتماد او اعتبار څخه مننه وکړه او زیاته کړه چې د ورسپارل شویو چارو د لا ښه والي لپاره به له ریښتینولۍ، روڼتیا او صداقت څخه کار واخلي او په هېواد کې به د مالي پرمختګونو لپاره لارې چارې برابرې کړي.

د افغانستان بانک د بشري سرچینو لوی آمر ښاغلي بشرمل پسرلي وویل چې د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی هڅه کوي چې د بانکدارۍ فعالیتونه په سالمه او خوندي توګه ترسره شي.

د افغانستان بانک د دوو آمرینو د ټاکلو په غونډه کې د بشري سرچینو د آمر سربېره د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو آمرینو ګډون کړی وو او له دې سره په یو وخت کې له دواړو نویو آمرینو سره د همکارۍ ژمنه وکړه.▣

# شرکت های بیمه
# تحت پوشش گزارش دهی به مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی افغانستان قرار گرفت

مبتنی به مواد پنجم، دوازدهم و هجدهم قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، شرکت های بیمه از جمله مراجع راپور دهنده به مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان می باشند.

بناءً این مرکز جهت آغاز و تکمیل روند جمع آوری گزارش های معاملات مشکوک از سکتور بیمه به همکاری و هماهنگی ریاست محترم امور بیمه های وزارت محترم مالیه اقدام نموده و پروسه ذکر شده را مطابق به قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم و پلان مطروحه سال ۲۰۱۸ خویش عملی و تکمیل نموده است.

مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی افغانستان با نظر داشت پلان کاری دو برنامه آموزشی را در خصوص گزارش دهی معاملات مشکوک به منظور بلند بردن ظرفیت کاری مسئولین آن شرکت ها و مرجع نظارتی سکتور بیمه تدویر نموده، که برنامه های آموزشی متذکره و همکاری های همه جانبه این اداره باعث گردیده تا ۳ معامله مشکوک با کیفیت بهتر به این اداره مواصلت نماید و سکتور بیمه بشکل کامل و مؤفقانه تحت پوشش گزارش دهی به مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی در روشنایی قانون ذکر شده قرار گیرند.

شرکت های بیمه جهت فعالیت در افغانستان مکلف اند تا جواز فعالیت خویش را بر اساس قانون و مقررات نافذه کشور از وزارت محترم مالیه ج.ا.ا. اخذ نمایند که الی اکنون ۴ شرکت بیمه مستقل داخلی و ۲ نمایندگی شرکت های بیمه خارجی با اخذ جواز فعالیت در افغانستان فعالیت می نمایند. شرکت های بیمه در افغانستان در بخش های بیمه صحت، بیمه موتر، بیمه مکاتب، بیمه حریق، بیمه سفر، بیمه بانک ها، بیمه تعمیراتی و سایر فعالیت های مرتبط بیمه خدمات لازم را ارائه می نمایند.

قابل یادآوری است که برنامه آموزشی در مورد(PGP) برای مصونیت هر چی بیشتر ارسال گزارشات معاملات مشکوک و تبادل معلومات میان مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی و شرکت های بیمه بطور انفرادی در مقر آن شرکت ها برای استفاده درست سافت ویر (PGP) و رعایت اصول محرمیت و پاسخ دهی به موقع، تدویر گردیده است.▣

# مؤسسات پولی الکترونیکی

# تحت پوشش گزارش دهی به مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان قرار گرفت

به تأسی از مادهٔ پنجم، هفدهم و هجدهم قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، تمام مؤسسات مالی، تشبثات و حرفه های غیرمالی مشخص مکلف اند تا در مورد معاملات نقدی که ارزش آن بیشتر از حد مندرج مقررهٔ مربوطه و گزارش معاملات مشکوک، مطابق شکلیات ومدت زمان پیش بینی شده به مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی افغانستان ارائه نمایند که منجمله مؤسسات پولی الکترونیکی نیز جدیداً شامل لست مراجع راپور دهنده به این مرکز گردید و بر اساس مادهٔ ۲۷ مقررهٔ مؤسسات پولی الکترونیکی، تمام مؤسسات پولی الکترونیکی مکلف اند تا گزارش های معاملات هنگفت که حد آن در مقرره متذکره تعیین گردیده است را مطابق شکلیات و لازمه های فورم های گزارش دهی در مدت پنج روز کاری بعد از ختم هر ماه به مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی افغانستان ارسال بدارند.

مؤسسات پولی الکترونیکی، از جمله مؤسسات غیر بانکی اند که پول فزیکی و انواع دیگری از پرداخت ها را در مقابل پول الکترونیکی قبول نموده و در انتقال پرداخت ها به شکل پول الکترونیک تسهیلات را بار میآورد. پول الکترونیکی، ارزش پولی است که در شبکه خاص الکترونیکی ذخیره شده و بخاطر پرداخت ها و یا انتقال پول به شکل غیر فزیکی، اما به یک مقدار محدود از طریق تیلفون های همراه مورد استفاده قرار میگیرد.

بایست خاطر نشان نمود اینکه، هدف از تحت پوشش قرار دادن چنین مؤسسات در کشور، مبارزه در راستای جلوگیری از پول شویی و تمویل تروریزم بوده تا مؤسسات مذکور از سوء استفاده در امان بمانند.

روی این ملحوظ، مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی ضمن آغاز روند گزارش دهی معاملات مشکوک و معاملات بزرگ مؤسسات پولی الکترونیکی، برنامه های متعدد آموزشی را جهت تقویت ظرفیت و بلند بردن سطح آگاهی کارکنان مؤسسات پولی الکترونیکی در قبال مکلفیت های قانونی و مقرراتی آن مؤسسات، چگونگی گزارش دهی معاملات مشکوک مطابق به قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، حالات مشکوکیت، معرفی لست های تعزیرات شورای امنیت سازمان ملل متحد، وظایف و مکلفیت های و احد استخبارات مالی افغانستان تدویر نمود تا ظرفیت کاری کارمندان بخش های ذکر شده در ساحه جلوگیری از پول شویی بلند رفته و تمام امور مربوطه را در مطابقت به قوانین و مقررات نافذه کشور به وجه احسن آن انجام دهند.

قابل ذکر است که د افغانستان بانک منحیث مرجع نظارتی تا اکنون برای سه مؤسسه پولی الکترونیکی تحت نام های کمپنی مخابراتی روشن (M-Paisa)، کمپنی مخابراتی اتصالات (M-Hawala) و کمپنی مخابراتی افغان بیسیم (MY-Money) به منظور انجام خدمات پولی الکترونیکی در کشور جواز فعالیت صادر نموده است که مؤسسات متذکره از بابت ماه های جون، جولای، اگست و سپتمبر سال ۲۰۱۸ مجموعاً به تعداد (۱۰۶۳۹۴) معامله بزرگ را به مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی افغانستان گزارش داده اند.▣

# د سوداګریزو بانکونو رول د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې

د بانک په تعریف خو ټول پوهیږو چې بانک هغه موسسه دی چې د وګړو سپماوې زیرمه کوي او دا پیسې چې د خلکو نه راټولوي، هغو خلکو ته چې پانګې او پور ته اړتیا ولري پور او پانګه ورکوي.

اقتصادي پرمختیا، په ملي عاید او سړي سر عاید کې زیاتوالی څخه عبارت دی. په ۱۹۹۰ زیږدیز کال کې د اقتصاد پوهانو نظر د اقتصادي پرمختیا په برخه کې بدلون وموند. معاصر اقتصاد پوهان په دې اند دي چې اقتصادي پرمختیا د یو هېواد د وګړو پرمختګ دی، نه د اشیاوو او لوازمو.

اقتصادي پرمختیا دا ده چې د خلکو د ژوند په کیفیت کې ښه والی راشي، هغوی ته د ژوندانه اسانتیاوې برابرې شي. دا ښه والي یوازې د ډیر عاید له امله نه شي راتلی، بلکې هغوی ته غوره تعلیم، تربیې او باکیفیته روغتیایي خدمتونو زمینه برابره شی.

هغه ستر لامل چې خلک په بانکونو کې خپلې پیسې ساتي، دا دی چې وګړي بانکونه د خپلو پیسو د خوندیتوب او حفاظت لپاره غوره ځایونه ګڼي چې هلته یې پانګه له غلا، ورکیدو او نورو زیانونو څخه په امن کې وي. او ور سره دا بانکونه دي چې د اقتصادي پرمختیا لپاره ټول آسانتیاوې برابروي.

**د سوداګریزو بانکونو په رامنځ ته کیدو سره لاندې اسانتیاوې رامنځ ته کیږي:**

د سوداګرۍ او صنعت پرمختګ: د سوداګریزو بانکونو په رامنځته کیدو سره په داخلي او خارجي سوداګري او صنعتي سکتور کې پرمختګ رامنځته شو، دا ځکه چې سوداګر، صنعتګرو ته قرضې ورکړې چې په دې سره په پانګه اچونه کې زیاتوالی رامنځته شوه چې د پانګوونې زیاتوالي سره د ګمارنې کچه لوړېږي او سپما رامنځته کېږي چې د هېواد د پرمختګ لامل ګرځي.

په نویو کمپنیو کې پانګه اچونه: سوداګریز بانکونه د نویو فابریکو خاوندانو ته د پانګې زمینه برابروي، تر څو پانګوال، پانګه اچونه وکړي چې د دې سره تولید رامنځته کیږی او ورسره ګمارنې کچه پورته کیږی او په پایله کې د ګمارنې کچې پورته کیدو سره ملي عاید کې زیاتوالی رامنځته کیږي.

د کرنیز سکتور پرمختګ: تجارتي بانکونه د کرنیز سکتور د پیاوړتیا لپاره او همدارنګه په هېواد کې شته زمیندارانو ته پانګه برابروي او دوی ته لنډمهاله او اوږد مهاله پورونه ورکوي، تر څو پرې ماشین آلات، اصلاح شوي تخمونه او د آفاتو ضد درمل واخلي چې دې سره د کرنې د پرمختګ لامل کېږي. څرنګه چې پوهیږو افغانستان یو کرنیز هېواد دی چې ۷۲ سلنه اقتصاد یې په کرنه متکي دی.

بارتر سوداګري: د سوداګریزو بانکونو په رامنځ ته کیدو سره، د بارتر سیستم ته د پای ټکی کیښودل شو چې د بارتر په سیستم کې ډیرې ستونزې موجودې وې



فواد لودین
د ټولو ناظر اداري داخلي آډیټور

چې بارتر سیستم کې تبادله جنس په جنس کیدله د پیسو په رامنځته کیدو سره دا ستونزو ته د پای ټکی کیښودل شو.

باید یاددونه وشي چې د بانکونو د رامنځته کیدو سره په ټول اقتصادي فعالیتونه کې بدلون او آسانتیاوې راغلي لکه پور سهولت چمتو کول، د صادرونکو لپاره د ګټو ټیټه کچه، د پورونو د لیک پرانیستل او داسې نور.▣

**بانکونه د نن پانګې ساتونکي، د سبا د برې ضمانت کوونکي**

اخستنې:

1. Nasir Mohammad Saeed, Money,BankingAnd Finance, Kitab Markaz,Fisal abad,year 2008.
2. https://accountlearning.com/role-of-commercial-banks-in-economic-development-of-country/
3. اقتصادي درسونه نصیر احمد کوټوال .
4. بانکداري، پوهندوی سید مسعود، د پوهنمل سید داؤد صمیم ژباړه، کتاب خپرندویه ټولنه ، ۱۳۹۳ ه ش.

# اقتصادي خبرونه

**افغانستان او اروپا تر منځ هوايي دهليز پرانيستل شو**

**د افغانستان او اروپا تر منځ د سوداګريزو توکو د صادراتو هوايي دهليز د تلې په ۵ مه په کابل کې پرانيستل شو.**

د دغه دهليز د پرانيستې په لومړۍ ورځ کې، ايټاليا او پولنډ هېوادونو ته ۱۲ ټنه قرقل، درې ټنه انګور او اته ټنه قالينې وليږدول شوې.

د صنايعو او سوداګرۍ وزارت وايي، سږ کال د افغانستان په صادراتو کې ۳۲ سلنه زياتوالی راغلی چې عمده دليل يې د هوايي دهليزونو جوړيدل دي.

د دغه وزارت مرستيال وويل "کله چې نن د هند په سترو بازارونو کې د افغانستان زراعتي محصولات پيدا کيږي، دا د دې ښکارندوی دی چې د افغانستان حکومت له خصوصي سکتور څخه ملاتړ کوي."

د اروپايي اتحاديې د سفير مرستيال اندرس فيچر هم د افغانستان او اروپا ترمنځ د هوايي دهليز له پرانيستې هر کلی وکړ او دا يې د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو په ټينګيدو کې مهمه ګام وباله.

د افغانستان د صنايعو او سوداګرۍ خونه وايي، چې تير کال د افغانستان ۴۷ زره ټنه وچه او تازه مېوه هند ته صادر شوې ده. د دغې خونې مرستيال خانجان الکوزي زياته کړه چې د افغانستان صادرات هر کال يو ميليون ټنو ته رسيږي.

"مونږ هر کال په ټولو اجناسو کې يو ميليون ټنه صادرات لرو، ۳ نيم زره يا ۴ نيم زره ټنه، په يو ميليون ټنه کې ډير ناچيزه دي د همدې هوايي کواريډور له امله د افغانستان مالونه د لومړي ځل لپاره وروسته له ۱۳۷۱ ام کاله چې ۳۰ کاله کېږي د لومړي ځل لپاره زمونږ قره قل اروپا ته ځي."

ښاغلي الکوزي زياته کړه هوايي دهليزونو د افغانستان په صادراتو ډير اغيز کړی چې تير کال د دغه هېواد د صادراتو کچه يو ميليارد ډالرو ته رسيده. افغانستان له هند سره تير کال د کابل ـ دهلي، کابل ـ ممبی او کندهار ـ امرتسر ښارونو تر منځ هوايي دهليزونه پرانيستي وه. له هند ور، ها خوا افغانستان له ترکيې او قزاقستان سره هم هوايي دهليزونه پرانيستل.

د صنايعو او سوداګرۍ خونه وايي، چې درې واړو هېوادونو ته د هوا له لارې د ۶۰ ميليون ډالرو په ارزښت ۳۲ زره ټنه صادرات شوي.

**پاکستان خواهان کمک صندوق بين‌المللی پول برای مقابله با بحران مالی شد**

**صندوق بين المللی پول می‌گويد پاکستان رسماً خواهان وام برای مقابله با بحران مالی شده است.**

کريستين لاگارد، رئيس صندوق بين‌المللی پول، گفته است درخواست دولت پاکستان را اسد عمر، وزير دارايی اين کشور مطرح کرده است.

خانم لاگارد با آقای عمر در حاشيه نشست سالانه صندوق بين‌المللی پول در بالی اندونيزيا ديدار کرده است.

ذخاير ارزی پاکستان در هفته‌های اخير به هشت ميليارد دالر کاهش يافته است که تنها برای پوشش بازپرداخت اقساط بدهی‌های اين کشور کفايت می کند. رسانه‌های پاکستان گفته اند دولت پاکستان خواهان وام ۸ ميليارد دالری شده‌اند.

تحليلگران می گويند به احتمال قوی، صندوق

»

بین‌المللی پول برای اعطای چنین وامی، شرایط سفت و سختی تعیین خواهد کرد که چنین شرایطی روی سیاست عمران خان در زمینه یک سیستم تأمین اجتماعی اسلامی اثر خواهد گذاشت.

همچنان خانم لاگارد به جامعه جهانی در مورد خطرات ناشی از تشدید تنش‌ها و تأثیر آن بر اقتصاد جهانی هشدار داده است. تنش‌ها میان چین و امریکا بر سر تعرفه‌ها احتمال جنگ تجاری میان این دو قدرت اقتصادی دنیا را افزایش داده است که تحلیلگران می‌گویند بر اقتصاد دنیا تأثیر منفی خواهد گذاشت. خانم لاگارد خواهان همکاری کشورها بر سر مسایل تجاری شده است. رئیس صندوق بین‌المللی پول خواهان حرکت به سوی پیمان های تجاری عادلانه‌تری در جهان شده است.

در نشست سالانه صندوق بین‌المللی پول همچنین روش جدیدی برای اندازه گیری ثروت ملی کشورها معرفی شد. در این روش تازه، رده بندی کشورها بر اساس میزان هزینه در بخش خدمات درمانی و آموزش صورت می گیرد. سنگاپور، کوریای جنوبی، جاپان و هانگ‌کانگ در این روش تازه در صدر قرار می‌گیرند و چاد و سودان جنوبی در انتهای جدول هستند.

**پر تعزیراتو سربېره امریکا ته ډېر چینایي مالونه صادر شوي دي**

د امریکا متحده ایالاتو او چین ترمنځ پر تجارتي کشمکشونو سربېره امریکا ته په سپتمبر کې د تمې خلاف ډېر چینایي مالونه صادر شوي دي. دا کېدلای شي د دواړو هېوادو ترمنځ د ګمرکي شخړې اور نور هم تازه کړي.

د امریکا متحده ایالاتو ته د چینایي مالونو د صادراتو اندازه د تجارتي شخړې په منځ کې خپل اوج ته رسیدلې ده. لکه څنګه چې د چین ګمرکي چارواکو د ۲۰۱۸ د اکتوبر په ۱۲مه خبر ورکړ چې په سپتمبر میاشت کې امریکا ته د ۳۴.۱۳ میلیارده ډالره په ارزښت چینایي مالونه صادر شوي دي، چې دا تر تېرې اګست میاشتې درې میلیارده ډالره ډېر دي.

د کال له پیله بیا امریکا ته مجموعاً د ۲۲۵.۷۹ میلیارده ډالره په ارزښت چینایي مالونه صادر شوي دي، چې تیر کال لا هغه ۱۹۶،۰۱میلیارده ډالره وه. د امریکا جمهور رییس دونالد ترمپ له ډېره وخته له دې سره مخالفت لري، چې نباید امریکا ته د چینایي مالونو صادرات پخپله چین ته د امریکایي مالونو تر صادراتو اضافه وي. په همدې خاطر په تیرو میاشتو کې له اقتصادي لحاظه د نړۍ دغو دواړو قوي هېوادونو یو پر بل باندې د میلیاردونو ډالرو په ارزښت ګمرکي تعزیرات وضع کړل.

به همدې ورځو کې ترمپ بیا په غیر مستقیم ډول سره چین په نورو جزایي تدابیرو باندې تهدید کړ. د امریکا متحده ایالاتو خصوصاً دونالد ترمپ د چین پر ولسي جمهوریت باندې د غیرعادلانه تجارت د عملي کېدلو تور لګوي. له هغې جملې څخه پر چین باندې د چینایي اسعارو د مصنوعي ارزښت ورکولو تور لګول کېږي، تر څو پواسطه یې په خپله نفع د صادراتو په برخه کې ګټې په لاس راوړي.▣

**سرچینې:**

د امریکا غږ د ۱۳۹۷ کال د تلې ۵ - بی بی سی فارسی ۱۱ اکتوبر ۲۰۱۸ - دویچه وله پشتو ۱۳/۱۰/۲۰۱۸



# خشک سالی اقتصاد کشور را متضرر خواهد ساخت



حمید الله فیضی
مدیر آگاهی عامه آمریت عمومی دفتر ریاست
د افغانستان بانک

افغانستان یک کشور زراعتی است که آب مورد ضرورت خود را از طریق آبهای روان و دریاهای که در کشور وجود دارد، حل می کنند.

آب مایه حیات و فراوان‌ترین مُرکب روی سطح کره زمین بوده و بیش از سه‌چهارم سطح کره زمین راپوشانده است.

متأسفانه معضله کمبود آب و خشک‌سالی مشکلات طبیعی زیادی را ببار آورده و خسارات زیادی به زنده‌گی انسان ها و طبیعت وارد می کند که مردم افغانستان عملاً با این مشکل مواجه شده است. این پدیده به‌عنوان یک ناهنجاری اقلیمی محسوب می‌گردد و تقریباً در همه مناطق اقلیمی افغانستان دیده می‌شود که اکثراً در افغانستان باعث مهاجرت‌ها و بی‌جا شدن جبری نیز گردیده است.

به همین دلیل بروز خشک‌سالی‌های شدید و گسترده در کشور، آسیب‌های جدی را بر پیکر اقتصاد کشور وارد می‌کند. این امر فرسایش خاک، کاهش مواد غذایی، کاهش محصولات زراعتی و مشخصاً گسترش سطح زیر کشت را به همراه داشته است.

»

طبقه فقیر و نادار کشور گروه نهایت آسیب پذیر در برابر تغییرات اقلیم در افغانستان به حساب می آیند. تأثیرات اقلیم بالای مصونیت غذایی مردم تاثیر منفی داشته، بخصوص بالای کسانیکه زنده گی شان وابسته به اقتصاد زراعتی بوده و از همین طریق امرار حیات می نمایند. نتیجتاً باید گفت که تغییرات اقلیمی که خشکسالی های دوامدار وسیلاب های ناگهانی یکی ازپیامد های آن می باشد، تأثیرات اقتصادی و اجتماعی ناگوار چون شیوع امراض گوناگون،گسترش بیکاری، مهاجرت ها و بیجا شدن مردم و فقر و بیچاره گی را ببار می آورد.

گزارش تازهٔ دفتر هماهنگی امور کمک های بشری سازمان ملل متحد (اوچا) نشان می‌دهد که خشکسالی نسبت به جنگ، افغان‌ها را از مناطق اصلی شان بیجا ساخته است. بر بنیاد آمار از آغاز سال روان میلادی تا اکنون، ۲۷۵هزار افغان به دلیل خشکسالی در اکثر ولایات افغانستان، آواره شده اند، در حالی که آمار بیجاشدگان جنگ، حدود ۲۲۳هزار تن می‌رسد.

بر بنیاد معلومات وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث طبیعی افغانستان، خشکسالی در بیش از ۲۰ ولایت این کشور، افغان‌ها را متأثر ساخته است.

قابل یاد آوری است که وزارت زراعت نیز بارنده گی های امسال را نسبت به سال های گذشته بسیار کم می داند و می گوید که برای پیشگیری از کاهش غله ها در کشور دوصدو چهل هزار تُن گندم ذخیره دارند و به کمک نهادهای کمک کننده، پنج ذخیره گاه دیگر را نیز در کشور ایجاد کرده است.

اقتصاد افغانستان وابسته به زراعت است، زیرا این کشور، سالانه به شش میلیون تُن گندم نیاز دارد که از این میان چهار اعشاریه پنج میلیون تُن آن در داخل کشور تولید می شود و یک و نیم میلیون تن دیگر آن از بیرون افغانستان وارد می گردد.

یکی دیگر از پیامدهای خشکسالی کمبود آب و علوفه برای مواشی است. در گزارش اوچا آمده است که قیمت بز و گوسفند در ولایات شمال شرقی افغانستان از ۲۵ تا ۴۰ درصد کاهش یافته، زیرا علوفه کافی برای این حیوانات وجود ندارد.

در گزارش همچنان آمده است که ولایات شمال شرقی افغانستان با کمبود شدید علوفه روبرو اند و از یک هزار قریه در این مناطق، ششصد قریه با کمبود آب مواجه است.

آب یکی از منابع بزرگ برای تولید انرژی قابل تجدید است، اما خشکسالی های گسترده همواره باعث می گردد که بعضی از دستگاه های نیروهای آبی با کمبود آب مواجه شده و یا کاملاً متوقف شوند.

امیدواری است که قبل از بروز مصیبت، دولت همه امکانات را در مدیریت معقول و از قبل پیش‌بینی شده به کار برد و مردم را از این فاجعه مهاجرت بار و حیات سوز نجات داده و از روبروشدن به رکود اقتصادی رهایی دهند در غیر آن فاجعه خشک‌سالی سبب تضعیف نظام اقتصادی و اجتماعی خواهد گردید.▣

منابع :


1. https://www.tolonews.com/fa/afghanistan
2. https://www.dw.com/fa-af -43939109
3. https://www.darivoa.com/a/half-million-children-affected-by-drought-in-Afghanistan-/4362217.html

# تکنالوژی نانو و تأثیر آن بر رشد اقتصادی کشورها

تکنالوژی نانو برای اولین بار توسط اربک درکسلر در سال ۱۹۸۶ مورد استفاده قرار گرفت. از نظر وی، این اصطلاح واژۀ است که به تمام تکنالوژی های پیشرفته و ماشین های محرک آفرین در عرصۀ کار اطلاق می گردد. گسترش تکنالوژی نانو، اثر مثبت و معنا داری از سال های ۱۹۹۷ – ۲۰۰۹ بر رشد اقتصادی یک تعداد کشور ها مانند اتحادیۀ اروپا، امریکا و جاپان داشته است.

سرمایه گذاری و موارد استفاده کشورها از تکنالوژی نانو، با در نظر داشت تأمین مالی و تحقیقات در بخش های مختلف میان کشور های جهان متفاوت می باشد. کشورهای اروپایی سرمایه گذاری در بخش تکنالوژی نانو را بعد از سرمایه گذاری دولتی قرار داده اند، در حالی که در کشورهای دیگر مانند امریکا و جاپان سرمایه گذاری در بخش خصوصی تکنالوژی نانو و بخش دولتی با هم یکسان می باشند.

بر اساس گزارش ها، کشورهای اروپایی می خواهند که در بخش تکنالوژی نانو سرمایه گذاری بیشتر نموده و به سرعت وارد مسابقۀ نانو شوند. تا حال کشورهای اروپایی از تکنالوژی نانو در بخش های تکنالوژی عادی و صلح آمیز و امریکا از آن در بخش های نظامی استفاده بعمل آورده است.

کشورهای که در این اواخر در بخش های اقتصادی شان از تکنالوژی نانو استفاده نموده اند، مصرف کننده گان آن کشورها از تطبیق این سیستم حمایت می نمایند، زیرا تکنالوژی نانو در این کشورها بطور قابل ملاحظۀ عملکرد بسیاری از محصولات را بهبود بخشیده و یا هم کاملاً بطور جدید تولید نموده است.

در مورد توسعه و تحقیق نانو، موجودیت سرمایه و نیروی انسانی ارزش فراوان داشته و بعضی از دانشمندان اقتصادی میان سرمایۀ فزیکی و سرمایه انسانی تفاوت قایل اند. یک تعداد دانشمندان اقتصادی بر این عقیده اند که رشد اقتصادی به اثر عوامل بیرونی رخ نداده، بلکه به علت نیروهای درونی اقتصاد رخ می دهد. بر مبنای این نظریه سرمایه گذاری در بخش نیروی انسانی، در نو آوری دانش اثر قابل توجهی در رشد اقتصادی دارد، صاحبان این نظریه بر این عقیده اند که در دراز مدت نرخ رشد اقتصادی بستگی به سیاست های تولید علم دارد.

اکثر دانشمندان اقتصادی بر این عقیده اند که بیشتر اثرات قابل توجهی تکنالوژی نانو در بیشتر کشور ها در فاصلۀ سال های ۲۰۲۰ تا ۲۰۵۰ قابل تصور می باشد و تکنالوژی نانو در رشد و توسعۀ سرمایه گذاری، بازار، قیمت، دستمزد، اشتغال و توزیع درآمد، تولید نا خالص داخلی و رشد اقتصادی تأثیر می گذارد.

در عصر کنونی آموزش یک نسل جدید از دانشمندان و نیروی کار ماهر در تکنالوژی نانو نیازمند گسترش آموزش لازم و برنامۀ مناسب و دوامدار میباشد تا باعث ایجاد یک اقتصاد صنعتی شود.

استفاده از تکنالوژی نانو باعث کاهش مصارف تولیدی، بهبود اقتصاد انرژی، تغییر در بازار کار و دستمزد ها، ایجاد محصولات با عمر طولانی، تولید دوا های مختلف جدید برای امراض گوناگون، حفظ محیط زیست و ... می گردد.

کمبود حمایت مالی، کمبود نیروی انسانی متخصص، عدم بکار گیری روش های نوین تجاری و بازاریابی، نبود شبکه های ارتباطی و اطلاعاتی، عدم حضور فعال بخش خصوصی مهم ترین عوامل بازدارندۀ توسعۀ تکنالوژی نانو محسوب می گردند. بناءً لازم است تا به سرمایه گذاری دراز مدت در بخش تکنالوژی نانو در طرح های تحقیقاتی این تکنالوژی در کشورهای در حال توسعه نیز تاکید گردد.▣

منابع:


1. How Nanotechnolagy Works
2. By KEVIN BONSOR AND JONA THANSTRICKLAN
3. https://www.Nano.howstuffwork.com
4. https://mawdoo3.com
5. موضوع: ماهی تکنولوجیا النانو / بواسطه مراد الشوبکه – آخر التحدیث: ۵۳: ۶ – ۳ ابریل ۲۰۱۸

# راه رسیدن به توسعه؛ تجارت آزاد یا حمایت از تولیدات

اکثر دانشمندان اقتصادی در غرب به این عقیده اند که بهترین راه رسیدن به رشد و توسعه اقتصادی همانا رویکرد تجارت آزاد است، اما اگر به تاریخ تحولات تجاری کشور های توسعه یافته غرب مانند امریکا و آلمان شود، نشان می دهد که آنها خلاف تصوری که ارائه می دهند، بخاطر رسیدن به توسعه از رویکرد حمایت از تولیدات داخلی استفاده نموده اند و این پروسه تا حال ادامه دارد که یکی از نمونه های واضح آن جدال گمرکی میان امریکا، چین و اروپا می باشد.

تجارت آزاد از اساسی ترین موضوعات مورد بحث نزد بیشتر دولت های توسعه یافته است، آنها معتقد اند که رشد و توسعه اقتصادی کشورهای توسعه یافته در نتیجۀ حذف موانع گمرکی و آزاد سازی تجارت به میان آمده است، آنها سایر کشور های در حال توسعه را به تطبیق تجارت آزاد تشویق می نمایند. در مقابل، حامیان تولیدات داخلی با رد این نظر، عامل اصلی رشد اقتصادی کشورهای توسعه یافته را حمایت از تولیدات داخلی عنوان می کنند.

حالا سوال اینجا است که آیا تجارت آزاد و یا حمایت از تولیدات داخلی علت رشد اقتصادی کشور های مانند امریکا و آلمان است؟

تا جایی که به نظر می رسد رشد اقتصادی امریکا و آلمان، علی الرغم حمایت از تجارت آزاد ریشه در حمایت از تولیدات داخلی دارد. همین طرز تفکر حمایت از تولیدات داخلی بود که تحولات و اتفاقات اقتصادی امریکا و اروپا را رقم زد و انباشت سرمایه و رشد اقتصادی در این دو کشور مرهون سیاست های حمایت از تولیدات داخلی آنها بوده است.

نظریات تجارت آزاد پس از جنگ جهانی دوم تحت عنوان رفاه برای همه، توسط کشور های غربی در قالب رژیم ها، حکومات، بانک جهانی، صندوق بین المللی پول و سازمان تجارت جهانی تبلیغ و ترویج می گردد.

انتخاب رویکرد تجارت آزاد یا مرکانتالیسم، عبارت از مجموعۀ نظریاتی اند که از مکتب فزیوکراسی آغاز گردیده و امروز در قالب نظریات جدید تجارت جهانی شکل گرفته است. مرکانتیلیسم از قرن شانزدهم تا نیمه قرن هجدهم رواج داشت و بیشترین سهم را در ایجاد خصلت تهاجمی خصومت و رقابت و استعمار در نظام اقتصادی سرمایه داری داشت. این مکتب مجموعه نظریاتی

»

منسجم ندارد و بیشتر ارائه دهندهٔ نوعی اقتصاد سیاسی است و بیشتر به تعیین جهت سیاست اقتصادی می‌پردازد. هدف سیاست‌های اقتصادی این مکتب در رسیدن کشور به ثروت و شهرت خلاصه می‌شود، و چون تنها عامل ایجاد ثروت را تجارت می‌داند، بیشترین مقرارت را در همین زمینه وضع می‌نماید.

تمام این مقررات در جهت ایجاد بیلانس تجاری مثبت است که خود موجب مثبت شدن بیلانس تأدیات می‌شود. مثبت شدن بیلانس تجاری کشور از دید مرکانتیلیستها که از آنها به عنوان اصحاب مکتب سوداگری نیز یاد می گردد، آنها شاخهٔ از اقتصاد دانان قرن ۱۵ تا ۱۸ بودند که اساس ثروت و قدرت را پول، طلا و نقره می دانستند. به عبارت دیگر از دید آنها سرازیر شدن طلا از کشورهای دیگر به کشور خود شان است که همزمان موجب تضعیف کشوری که طلا از آن خارج گردیده و قدرت یافتن کشوری که طلا به آن وارد شده، می‌گردد.

مرکانتلیستها ممنوعیت های را به نفع تولیدات داخلی شان وضع نموده بودند که عبارت اند از ممنوعیت ورود کالاها بصورت آماده و ساخته شده به کشورهای شان که باعث بیکاری در کشور شان می‌شد، ممنوعیت صدور مواد خام از کشور به کشور های دیگر که باعث تضعیف صنعت به علت نبود مواد اولیه در داخل کشور شان می گردید. همچنان ممنوعیت مهاجرت نیروی کار متخصص به خارج از کشور در دستور کار این کشور ها قرار داشت.

در همین مورد کشور های پیرو نظریهٔ مرکانتلیست ها پیشنهاداتی نیز داشتند که عبارت اند از صادر نمودن کالاهای ساخته شده و آمادهٔ مصرف به خارج از کشور که موجب اشتغال زایی در داخل کشور های شان می گردید، واردات مواد خام و اولیه برای افزایش تولیدات و همچنان جذب نیروی کار متخصص از سایر کشورها که منجر به پیشرفت تولیدات داخلی شان میگردید.

در مجموع نظریهٔ مرکانتیلیسم را بطور خلاصه می‌توان در سیاست اقتصادی شان به انباشتن هر چه بیشتر فلزات گرانبها در کشور، خزانه دولت و جستجو برای یافتن قوانین اقتصادی و برگشت پول تعریف کرد.

با در نظرداشت رشد اقتصادی امریکا و آلمان، که علی الرغم تجارت آزاد، ریشه در حمایت از تولیدات داخلی داشت، به این نتیجه میرسیم با وجود اینکه تعدادی از کشورها تجارت آزاد را در راه رسیدن به توسعه اقتصادی مهم میدانند، اما در کنار آن جهت رسیدن به توسعه اقتصادی حمایت از تولیدات داخلی را یک امر حتمی میدانند تا از این طریق بتوانند کشور خود را به رشد و شکوفایی اقتصادی برسانند.▣

منابع:


1. https://daazadiradio.com / عنوان / تقاضای جدی برای انکشاف تولیدات داخلی افغانستان / دوشنبه ۱۶ میزان ۱۳۹۷
2. https://www.pajhwok.com / عنوان / کمپاین حمایت از تولیدات داخلی راه اندازی شد. تاریخ نشر / ۱۳/۲/ ۲۰۱۸
3. farsi.alarabiya.net/ عنوان داستان معجزه اقتصادی آلمان / تاریخ نشر ۱۹ / ۱۲ / ۲۰۱۴


پول افغانی نشانهٔ افتخار،
اقتدار و هویت ملی ماست!

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال دوازدهم شماره ۱۳۶، میزان ۱۳۹۷

د افغانستان بانک

